بســـــــــمل

۲۰۱۰-۰۴-۲۴

## المان دافغانستان تاريخي او رښتينی دوست دی



**ورمه ورځ د جرمني چانسلرۍ انجيلا مېرکل په جدي توګه وويل زه پدې باور لرم چې د يوولسم سپتمبر نه به زياتې ورانوونکي حملې تر سره شي .**

همدا راز اغلې مېرکل زياته کړه:

دا به ناسمه وي داسي و انګېرل شي چې نړيوال تروريزم جرمني ته ګواښ نه دی .

اغلې مېرکل خپل پارلمان ته په ګوته اشاره وکړه چې :

د دغه کور ( پارلمان ) هر يو کس پدې پوهيږي .

قدرمنو لوستونکو !

**آيا تاسو مېرمن مېرکل په حق نه بولئ؟**

**زماله نظره خودداسي پيښوامکان شته** او هغه ځوک به يې ترسره کړي کوموچي د ۲۰۰۱ زيږديز کال د سپتمبر په نهمه او يولسمه کې لاس درلود .

اغلې مېرکل پر حق او وېره يې پر ځای ځکه ده چې دنوي استعمار دطراحانو په رمز او نقشو پوه شوې ده .



نږدې يوه لسيزه مخکې کله چې امريکايان او انګرېزان په دې پوره باوري شول چې روسانوته وفادار ګوډاګی (مسعود) ددوی ستراتيژيکو ګټو ته يو لوی خنډ اودسر درد دی نو يې د مسعود دورکې پلانونه تر لاس لاندې ونيول مسعود هم له دوی څخه دومره زياته وېره لرله چې تر سهاره به په يوځای کې نه ويده کېده هغه به دشپې دوه درې ځلې خپل موقعيت بدلاوه دنوي استعمار طراحان حيران وو چې څنګه يې له مينځه ويسي ؟

څو ځله يې دنظار شوراء قومندانان پسې واچول چې له مينځه يې ويسي خو مسعود ډېر ځيرک و.

يوځل خومسعود ته زهر هم ورکړل شول خو فرانسې ته په رسېدو سره له مرګه بچ شولنده دا چې دنوي استعمار ماهرو طراحانو خپلو ستراتيژيکو اهدافو ته درسېدو لپاره د لوړ مبلغ او پوره واک په بدل کې مسعود دخپلو پنجشېريانو په وسيله وواژه ځکه خو د ٢٠٠١ زيږديزکال دسپتمبر نهمه او يوولسمه نېټه له يوې اوبلې سره نه شلېدونکی او منطقي تړاو لري مانا که دسپتمبر دنهمې نېټې پلان خنثأ شوی وای نو ديوولسمې نېټې پلان به يې خامخا له ځنډ او خنډ سره مخامخ شوی و .

د مسعود له مينځه وړل څه ساده کار نه و، اوس ټولو ته پوره پته لګېدلې ده چې مسعود ولې، دڅه لپاره او د چا لخوا ووژل شو .

داچې په دانهوکلونوکې د مسعود قاتلين په څومره علني ډول نازول کيږي علت يې بس همد ادی چې دوی د نوي ښکېلاک لپاره وسيله وګرزېدل .

اغلبأ داسې ويل کيږي چې دمسعود په وژنه کې د فهيم، غبرګ عبدالله، قانوني او بسم الله لاسونه ووځکه خو امريکايانو دا درئ واړه په کافي اندازه ونازول او لا نور به يې هم ونازوي .

فهيم خو دومره سپين سترګی شوی دی چې تېره اونۍ يې هم په کابل کې دښووني او روزنې وزارت ١٢ جريبه ځمکه په داسې حال کې تر خړتم لاندې کړه چې تر ارګه پورې دنوبل دجايزې ګټونکې ؟؟ ښاغلي اوباما دلنده کې منډې لا يوه مياشت نه ده پوره شوې .

په هغه ناسته کې چې اوباما له ارګمشر کرزي سره لرله فهيم هم مخامخ ورته ناست و، اوباما ظاهرأ له کرزي څخه د فساد د ورکولو غوښتنه وکړه خو په حقيقت کې يې فهيم اودنظار غله لاچوراو چپاول ته ور وهڅول که داسې نه وي نو بيا فهيم په کوم جرئت د ښووني او روزنې د وزارت نه تنها ځمکه غصبوي بلکې دهغه وزارت مامورين هم ډبوي؟

په افغانستان کې نننی انارشيزم او دقدرت په ګدئ د پوډريانو اوجنګي جنايتکارانو کښېنول او استحکام نه تنها د المان عام وګړي بلکې سياستوال هم مايوسه کړي دي .

المان دافغانستان تاريخي او رښتينی دوست دی خوله بده مرغه چې دنوي استعمار د منفورو سردارانو لخوا دا دوستي يو څه خچنه شوه .

دا چې مېرمن مېرکل دنويو لا خطرناکو پېښو څخه وېره لري پوهيږي چې که المان دامريکا تر څنګ ونه دريږي په مستقيم يا غير مستقيم ډول به په اصطلاح دالقاعده لخوا ورته زيان ورسيږي له همدې کبله هغه

مجبوره ده خپل وګړي ارام اوپه افغانستان کې دخپلو سرتېرو دندې پرځای وبولي کـه داسي ونـه کړي نـو ددې وېره شته چې دالمان امنیت او ملي ګټې تر حملو لاندې راشي .

کوم اجیران او ناراسته اشربانې چې نـن امریکایـانو او انګرېزانـو د نړیوالـې ټولنې پـه نـوم د افغـان ولس پـه اوږو دترهګري د له مینځه وړلو په پلمه ورسپاره کړي دا هسي ببو لالـي دي پـه حقیقت کـې ترهګر د دوی زېږنده دي دوی یې تمویلوي ځو جګړه توده وساتي او ځانونه دکسپین تر بحیرې پورې ورسوي .

پرون **دناټومشر اندرس فوګ راسموسن په خوراسپین سترګي سره وویل چې ترهغوبه په افغانستان کې پاتې شوځوموخپل اهداف ترلاسه کړي نه وي .**

**اوس نوله تاسو پوښتم چې د دوی په اهدافو کې په رښتیا هم داسامه، ملاعمر او ګلبدین نیونه راځي او که هغوی لا دمخه په واشنګټن کې برمته شوي دي؟**

**لنډه داچې نه تنهاالماني سیاستوال برمته دي بلکې ګڼ شمېر هیوادونـه پـه مستقیم او غیر مستقیم ډول دنوي استعمار ښامار تر سینې لاندې کړي دي .**